د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

شماره: ۳۱۲ (از ۵ اسد الی ۱۲ اسد ۱۳۹۸ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و مراجع پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

آنچه در این شماره می‌خوانید:

## راتلونکې ټاکنې او د ملک کړکېچن وضعيت


مقدمه ........ ۱

راتلونکې ټاکنې او احتمالي پايلې ........ ۲

سیالی کوونکې ټاکنيزې ډلې ........ ۲

- د محمد اشرف غني ټاکنيزه ډله ........ ۲
- د عبدالله عبدالله ټاکنيزه ډله ........ ۳
- د محمد حنيف اتمر ټاکنيزه ډله ........ ۳
- د ګلبدين حکمتيار ټاکنيزه ډله ........ ۳

ستونزمنې ټاکنې او کړکېچن وضعيت ........ ۳

۱- ټاکنيزې ستونزې ........ ۴

- د ټاکنو کمېسيون ........ ۴
- ټاکنيز نظام ........ ۵

۲- د ملک حالات ........ ۵

- امريکا- طالبانو خبرې ........ ٦
- خراب امنيتي وضعيت ........ ٦
- مالي ستونزې ........ ٦
- همغږی نشتون ........ ۷

پايله ........ ۷

# راتلونکې ټاکنې او د ملک کړکېچن وضعیت




## مقدمه

د ولسمشرۍ ټاکنو د مهالوېش سره سم د اسد میاشتې په ٦ مه نېټه د ١٨ کاندیدانو ترمنځ ټاکنیزې سیالۍ پیل شوې او ٦٠ ورځې به دوام وکړي.

د ټاکنیزو سیالیو په لومړۍ ورځ محمد اشرف غني، عبد الله عبد الله او عنایت الله حفیظ خپلو پلویانو ته ویناوې وکړې. ښاغلي محمد اشرف غني له خلکو غوښتنه وکړه چې ده ته رایه ورکړي تر څو دا پیل کړی فصل په راتلونکو پنځو کلونو کې بشپړ کړي سوله یې خپل اولویت یاد کړ خو د سولې تر سره کول یې په راتلونکې حکومت پورې وتړل. همدارنګه ښاغلي عبدالله د کمپاین په لومړۍ ورځ په اشرف غني باندې توندې نیوکې وکړې چې په تېرو پنځو کلونو حکومت کې هغه څه چې ما او ملت غوښتل د هغه پر وړاندې به ده مخالفت کړ، د حکومت واګې یې داسې چاته سپارلې ده چې هغه اوس‌مهال په څارنوالۍ کې د فساد دوسیې لري. راتلونکو ټاکنو ته بل نوماند عنایت الله حفیظ هم د ملت خدمتګاران تر شعار لاندې سره د سرکونو پاکولو سره خپل کمپاین پیل کړ. ولسمشریزو ټاکنو ته د کمپاینونو په پنځمه ورځ نوماند ګلبدین حکمتیار هم له خپلو پلویانو سره رسماً خپل کمپاین پیل کړ.

راتلونکې ټاکنې او احتمالي پایلې، کړکېچن حالات او ستونزمنې ټاکنې، د هېواد روان وضعیت، امریکا – طالبانو خبرې او د ټاکنو کمېسیون ظرفیت ته په کتلو سره د ټاکنو برخلیک، هغه مسایل دي چې دلته یې په اړه شننه شوې.

## راتلونکې ټاکنې او احتمالي پايلې

په افغانستان کې د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو لپاره ۱۸ کسانو ځانونه نوماند کړي دي. په دغه ټاکنيزو ډلو کې ځينې ډلې ځواکمنې ښکاري او کولای شي د ټاکنو په ميدان کې ښه سيالي وکړي؛ خو ځينې نورې ډلې بيا په خلکو کې د نفوذ او سياسي مخينې درلودو له اړخه کمزورې ښکاري، په ټوله کې دغه ۱۸ ټاکنيزې ډلې په لاندې دوه برخو وېشلې شو:

**لومړی** :د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو لپاره په ۱۸ نوماندانو کې ځينې داسې ټاکنيزې ډلې رامنځته شوې دي، چې ځانونه د ولسمشرۍ حقداره ګڼي او ولسمشرۍ مانۍ ته به د رسېدو په موخه رښتينې مبارزه وکړي. په دې برخه کې د محمد اشرف غني، عبدالله عبدالله او محمد حنيف اتمر ټاکنيزې ډلې يادولی شو، دوی به په راتلونکو ټاکنو کې د بريا په موخه کلکه مبارزه او يو د بل سيالي وکړي.

**دويم** :د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو لپاره په رامخته شوو ټاکنيزو ډلو کې، ځينو ډلو د بريا چانس کم بريښي،اوس مهال هم ښايي په دغو ۱۸ ټاکنيزو ډلو کې ځينې ډلې مخکې له ټاکنو له خپلې نوماندۍ د نورو ډلو په ګټه تېرې شي او ځينې ښايي چې په ټاکنو کې هم خپل بخت و ازمويي.

## سيالۍ کوونکې ټاکنيزې ډلې

**د محمد اشرف غني ټاکنيزه ډله :** محمد اشرف غني د امرالله صالح او محمد سرور دانش سره يو ځای د «دولت جوړونکې» ټاکنيزې ډلې په نوم راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو لپاره د سيالۍ ميدان ته را مخته شوی دی.

امرالله صالح په راتلونکو ټاکنو کې د اشرف غني لومړی معاون دی خو په مختلفو ټاکنيزو ډلو کې د جمعيت اسلامي ويشل شوي حالت ته چې ګورو، ښايي امرالله صالح دومره رايه غني ته را نه وړي. همدارنګه سرور دانش يې د هزاره قوم د رايې د ترلاسه کولو په موخه له ځان سره درولی؛ خو په اوس مهال کې د هزاره قوم رايه هم تر ډېره وېشل شوې ښکاري، ځکه محمد محقق له حنيف اتمر او کريم خليلي له عبدالله عبدالله سره ولاړ دي او په هزاره قوم کې همدا دوه کسان تر نورو د ډېر نفوذ خاوندان بلل کېږي.

پر دې ټولو سربېره کوم څه چې د اشرف غني ډلې د بريا چانس زياتوي، هغه د ده د حکومت په رأس کې قرار لرل، په مرکزي رياستي نظام ټينګار او د اجرائيه رياست له منځه وړل دي، بل مهم او اساسي ټکی چې د اشرف غني د بريا چانس يې ډېر کړلو هغه د شنونکو په آند د ټاکنو څنډ دی اشرف غني په ټاکنو کې څنډ د څو عواملو لپاره راوست اول دا چې خلکو ته وښيي چې په ۱۳۹۷ لمريز کال کې د افغانستان داخلي عواد ۱۹۳ ميليارد افغانيو ته لوړ شوي چې د تېر کال په پرتله ۱۲ سلنه زياتوالی ښيي همدارنګه په تېر ۱۳۹۷ لمريز کال کې حکومت ۹۳ سلنه بودجه مصرف کړې چې د دې سارې په تېرو اتلسو کلونو کې نه ليدل کېږي او د يادولو وړ ده چې د افغانستان صادرات د بل هر وخت په پرتله په ۱۳۹۷ لمريز کال کې ۸۰۰ مېليون ډالرو ته ورسېدل، د دولتي ادارو د کمپلکس افتتاح، د ازادۍ د ورځې لپاره د پراخو ترتيباتو او په ډېره بيړه باندې د دارالمان قصر رغول او داسې انګېرل کيږی چې په راتلونکې مياشت کې افغان حکومت د پيسو له نړيوال صندوق ( IMF) نه 8.3 ميليارد ډالره پور اخلي چې په دې پيسو باندې ځيني لويې پروژې د ټاکنو مخکې جمهور رئيس محمد اشرف غني افتتاح کړي، نو حالاتو ته په کتو سره د اشرف غني د ټيم د ګټلو چانس ډېر ښکاري.

**د عبدالله عبدالله ټاکنیزه ډله** :راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو ته عبدالله عبدالله د جمعیت اسلامي، جنبش اسلامي او وحدت اسلامي گوندونو له لوري را مخته شوی نوماند دی. د ده په ټاکنیزه ډله کې جنرال دوستم، محمد کریم خلیلي او صلاح الدین رباني قوي سیاسي او قومي ملاتړ لرونکې څېرې دي.

د جنرال دوستم او کریم خلیلي له ملگرتیا ورهاخوا د عبدالله عبدالله د ټاکنیزې ډلې د قوت درېیم ټکی د جمعیت اسلامي په انسجام پورې اړه لري. که څه هم په اوس مهال کې د جمعیت اسلامي مهم غړي د راتلونکو ټاکنو لپاره په مختلفو ټاکنیزو ډلو کې تیت او غیر منسجم ښکاري؛ خو د دې حزب اجرائي مشر صلاح الدین رباني بیا عبدالله عبدالله د جمعیت اسلامي یوازینی رسمي نوماند اعلان کړی. که چېرې په رښتیا هم جمعیت اسلامي ته هر منسوب غړی د خپل ټیم لپاره صادقانه کار او کمپاین وکړي، بیا نو له اشرف غني سره د عبدالله عبدالله سیالي سخته ده. پر دې ټولو سربېره کوم څه چې د عبدالله عبدالله ډلې ته ځواک ورکوي او د بریا چانس یې زیاتوي، هغه د ده برحاله حکومت کې شتون دی.

**د محمد حنیف اتمر ټاکنیزه ډله** :ولسمشریزو ټاکنو ته د ۱۸ نوماندانو به منځ کې، ظاهراً د حنیف اتمر د ټاکنیزې ډلې جوړښت تر نورو ځواکمن ښکاري. د «سولې او اعتدال» تر شعار لاندې ټاکنیزه ډله کې د اتمر لومړی مرستیال محمد یونس قانوني د جیعت اسلامي مطرح غړی دی او محمد محقق بیا د اجرائیه ریاست دویم مرستیال او په هزاره قوم کې ډېر نفوذ لرونکی شخص دی. همدارنگه د «سولې او اعتدال» په ډله کې عطا محمد نور، اسمعیل خان، وحیدالله سباوون، حضرت عمر زاخېلوال، سید حامد گیلاني او ځینې نورې مطرح سیاسي څېرې هم گډون لري، چې دغه ډله یې نوره هم ځواکمنه کړې ده. خو په دې وروستیو کې د عطامحمد نور او یونس قانوني له حنیف اتمر سره جدي اختلافات منځ ته راغلي داسې انگېرل کیږي چې کېدای شي د سولې او اعتدال ټیم نه عطامحمد نور او یونس قانوني لاره بېله کړي چې په دې سره د سولې او اعتدال ټیم د بیا وېشل کېدو امکان هم شته دی.

**د گلبدین حکمتیار ټاکنیزه ډله** :د حزب اسلامي افغانستان رهبر، گلبدین حکمتیار چې په ۱۳۹٦هـ ش کال کې یې د افغان حکومت او بهرنیانو پر ضد خپله وسلهواله مبارزه پرېښبوده اوس ولسمشریزو ټاکنو ته نوماند دی حکمتیار د افغانستان په سطحه یو اسلامپاله جهادي او سیاسي رهبر دی او لا هم د افغانانو ترمنځ څه ناڅه محبوبیت لري، پر همدې اساس ښایې یوه اندازه رایې په ځانگړې توگه د اسلامپالو رایې له نورو نوماندانو څخه را کسر کړي خو د بریا چانس یې په مجموع کې کم ښکاري.

دا ځل ټاکنې په داسې وخت کې تر سره کیږي چې طالبانو او امریکا تر منځ مخامخ خبرې روانې دي او د سولې راتلو ته د هر بل وخت په پرتله هیلې زیات شوې دي تېره اوونۍ د افغانستان پخواني جمهور رئیس حامد کرزي وویل ”چې د هېڅ کومې ډلې نه حمایت نه کوم ماته سوله اولویت لري لومړی باید سوله وشي بیا ټاکنې او له دوی (ټاکنیزو ټیمونو) نه مې هم دا غوښتنه ده چې په سوله باندې تمرکز وکړي همدارنگه ډېری افغان سیاسیون هم په دې نظر دي چې سوله اولویت ده باید د ټاکنو پر ځای سولې ته اولویت ورکړل شي یوازې حاکم ټیمونه غواړي چې ټاکنې تر سره شي او وایي چې سوله زموږ هم اولویت ده؛ خو سوله به راتلونکی حکومت کوي. پورته ذکر شوي عوامل هغه څه دي چې د ټاکنو پیل شوي کمپاین باندې یې سیوری غوړولی.

## ستونزمنې ټاکنې او کړکېچن وضعیت

### ۱- ټاکنیزې ستونزې

#### a- د ټاکنو کمېسیون

د ۱۳۹۳لمریز کال له جنجالي ټاکنو را وروسته د ملي یووالي حکومت د مشرانو ترمنځ له شوو هوکړو څخه، یو هم د ټاکنو کمېسیون کې د نوو کسانو ګمارل ؤو. دغه کمېسیون د ۱۳۹۷لمریز کال د ولسي جرګې ټاکنې له درې کلن ځنډ وروسته په ډېر خراب شکل او وضعیت کې ترسره کړې. د ولسي جرګې د ټاکنو پر مهال کمزوری مدیریت، فساد او پراخې درغلۍ ټول هغه موارد ؤو چې له کبله یې پایلې ۵ میاشتې وروسته اعلان شوې او د دې کمېسیون د رهبرۍ ضعف په ښه توګه ترې معلوم شو؛ چې د دې ستونزو له کبله جمهور رئیس محمد اشرف غني د یوه فرمان له مخې په کمېسیون کې تغیرات راوستل په پایله کې نویو کسانو د کمېسیون چارې په واک واخستې او کار یې پیل کړ؛ خو دا تغیرات هم داسې ښکاري چې د حاکمو ( دولت جوړوني او همګرایۍ) ټیمونو لخوا خپل کسان  په‌کې ځای په ځای شوي دي. نو دې حالت ته په کتو سره راتلونکو ټاکنو پر وړاندې یو ستر خنډ د ټاکنو اوسنی کمېسیون دی.

#### b- ټاکنیز نظام

د ولسي جرګې په تېرو ټاکنو کې له بایومټریک دستګاوو څخه کار واخیستل شو؛ خو د ټاکنو کمېسیون ونه‌توانېد چې دغه سیستم په سمه توګه مدیریت کړي. په دې برخه کې د بایومټریک دستګاوو تخنیکي ستونزې او د بایومټریک په اړه د خلکو نه پوهاوی هغه موارد ؤو چې دغه سیستم یې له ستونزو سره مخ کړی ؤو. د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو پر وړاندې یوه لویه ستونزه همدا ده. که چېرې د ټاکنو کمېسیون بیا هم په دې برخه کې د ولسي جرګې د ټاکنو په شان ناکام پاتې شي او بایومټریک سیستم منظم نه کړای شي، د ولسمشریزو ټاکنو جنجال به هم د ولسي جرګې له تېرو ټاکنو کم نه وي.

د ولسي جرګې په تېرو ټاکنو کې اوسنۍ کاغذي تذکرې د نوم‌لیکنې لپاره اصلي سند ګڼل کېده، چې له کبله یې زیاتو درغلیو ته لاره هواره شوه او د ولسي جرګې په ټاکنو کې زرګونه کسانو جعلي تذکرې وکارولې. دا ستونزه یوازې د برېښنایي تذکرو د وېش په واسطه حل کېدونکې ده؛ خو دا چې تر اوسه ډېرو کمو افغانانو برېښنایي تذکرې ترلاسه کړې دي او د وېش لړۍ یې محدوده او ورو ده، خامخا به راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې هم له دغې ستونزې سره مخ اوسو.

### ۲- د ملک حالات

#### a- امریکا- طالبانو خبرې

په افغانستان کې د روانې جګړې د پای ته رسېدو په موخه له تېرو څو میاشتو راهیسې د امریکا او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې روانې دي. تر اوسه پورې د امریکا او طالبانو تر منځ اووه ناستې تر سره شوې دي چې دواړه لوري د پرمختګ خبره کوي او وایي چې په ډېرې برخو کې د نظر توافق شته دی او هیله یې ښودلې چې د سپټمبر میاشتې تر اوایلو پورې به نسبي پایلې ته سره ورسېږي، د سولې په دغو خبرو کې که چېرې امریکا او طالبان د جګړې د پای ته رسولو هوکړې ته ورسېږي، نو ښایي ټاکنې  تر سره نشي، تر اوسه پورې طالبانو د افغان حکومت سره مخامخ خبرې رد کړې

دي، تېره اوونۍ د طالبانو وياند په خپره کړې اعلاميه کې ووېل چې دوی له حکومت سره د حکومت په حيث نه بلکې د يو جهت په ډول له امريکايانو سره د توافق نه وروسته خبرو ته کيني.
همدارنګه د اسد مياشتې په ۸ مه نېټه باندې د امريکا د بهرنيو چارو وزير په واشنګټن کې يوې خبري غونډې ته خبرې کولې چې ټرمپ ورته امر کړی دی چې د ۲۰۲۰ م کال تر ټاکنو پورې چې په امريکا کې تر سره کيږي په افغانستان کې د امريکايي سرتېرو شمېر را کم کړي هغه زياته کړه" ټرمپ پدې برخه کې هيڅ شک نه دی پرېښي او هغه راته ويلي دي چې دا جنګ ختم کړه". کله چې جمهور رئيس ټرمپ د افغانستان لپاره خپله ستراتېژي اعلان کړله هغه ووېل"دا ستراتيژي به پر حالاتو باندې تکيه ولري، نه پر کوم تقسيم اوقات باندې" خو نن ورځ خپل د بهرنيو چارو وزير ته امر کوي چې د ټاکنو مخکې بايد خپل سرتېري له افغانستان څخه وباسي له دې معلوميږي چې سپينه ماڼۍ هم سولې ته لومړيتوب ورکوي نه ټاکنو ته نو له همدې کبله ډېر امکان شته  چې ټاکنې تر سره نشي.
b- **خراب امنيتي وضعيت:** پر دې سربېره د هېواد روان امنيتي وضعيت د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو پر ړاندې يوه لويه ننګونه ده. د سيګار د راپور په اساس اوس مهال د افغانستان شاوخوا ۴۵ سلنه خاوره د حکومت له کنټرول څخه  وتلې. دغه راز د دولت تر کنټرول لاندې سيمو کې هم پوره امن نشته، دا وضعيت به د ټاکنو سرتاسريوالی او شفافيت تر پوښتنې لاندې راولي.
c- **مالي ستونزې:** د ټاکنو د ترسراوي ټول‌ټال مصرف ۱۵۰ مېليون ډالره اټکل شوی دی لومړيو کې د حکومت هڅه او هيله دا وه چې د ټاکنو د تر سراوي مصرف له بهرنيو مرسته کوونکو هېوادونو څخه تر لاسه کړي، خو يوازې په افغانستان کې د امريکا سفارت، ملګرو ملتونو او نړيوال بانګ ورته ۶۰ مېليون ډالره ومنل؛ پاتې ۹۰ مېليون ډالره حکومت د هغه ۱۵۴ پراختيايي پروژو بودجه ټاکنو ته ځانګړې کړه چې د ۱۳۹۸ لمريز کال کې يادو پروژو ته ځانګړې شوې وه، خو  ولسي جرګې د ۱۳۹۸ لمريز کال د نيمايي کال بودجه رد کړه او د ماليې وزارت نه يې په دې اړه د وضاحت غوښتنه وکړه، نو په مالي برخه کې هم حکومت د ټاکنو په ترسراوي کې له مشکلاتو سره مخ کېدلای شي.
d -**همغږی نشتون:** د حکومت، ټاکنيزو ډلو، ملي شورا او خلکو ترمنځ همغږي نشتون هغه څه دي چې کېدای شي د ټاکنو پر وړاندې خنډ شي، د افغانستان ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون وايي، د ولسمشر محمد اشرف غني په مشرۍ د دولت جوړوونکي ټاکنيزې ډلې او د اجرائيه مشر عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همګرايی ټاکنيزې ډلې په خپلو کمپايني غونډو کې له دولتي سرچنيو او امکاناتو ګټه اخيستې چې په وينا يې دا له ټاکنيزو اصولو ښکاره سرغړونه ده.همدارنګه د کانديدانو شورا چې ۱۲ ټيمونه په‌کې غړيتوب لري په خپره کړې اعلاميه کې ګواښ کړی که‌چېرې د دولت جوړوني او همګرايی ټاکنيزو ډلو له لوري په خپلو کمپايني غونډو کې له دولتي سرچينو او امکاناتو ګټه اخيستنه دوام وکړي دوی به له ټاکنو سره پرېکون اعلان کړي.
همدارنګه د ولسي جرګې مشر مير رحمان رحماني له خليل زاد سره په ليدنه کې ووېل چې اوس‌مهال د افغانانو لپاره د هر څه نه اړينه سوله ده او د خليل زاد په مشرۍ د امريکايانو خبرې له طالبانو سره هيله بښونکې وښودې او ډاډ يې ورکړ چې ولسي جرګه د دې خبرو پوره ملاتړ کوي.

په ټوله کې افغانان د ټاکنو تېر برخلیکونو ته په کتو، د جګړې زیاتوالی او په اوس کې د امریکا - طالبانو تر منځ د مخامخ خبرو اترو پیل ته خوښ ښکاري؛ ډېری یې په دې نظر دي چې سوله په ټاکنو مقدمه ده باید ټول لوري په دې اړه کوټلي ګامونه واخلي.

## پایله

امریکا او طالبانو دواړه لوري د بل هر وخت په پرتله د سولې خبرو ته لېواله دي د امریکا جمهور رئیس د افغانستان د جګړې ختم غواړي علت یې هم د ۲۰۲۰ م کال ټاکنې دی، او طالبان که څه هم په کوچني اختر کې په درې ورځنی اوربند سره وښوده، چې په روانه جګړه کې لا هم تر ټولو پیاوړی ځواک او مهم لوری همدا ډله ده؛ خو بیا هم په سیمه کې روان تغیرات او  په نړیواله سطحه د داعش ډلې لپاره کمپاین چې په افغانستان کې پراخ حضور لري، دا او دې ته ورته موضوعات هغه څه ؤو چې له امله یې طالبان د جګړې په ډګر کې د خپل رول د پیکه کېدو په وېره کې دي. دا په داسې حال کې ده چې امریکا له طالبانو سره پایلې ته د رسېدو لپاره د سپټمبر میاشت لومړۍ نېټې ټاکلې چې پایلې ته به رسیږي. په ورته وخت کې ولسمشریزو ټاکنو ټاکنیز کمپاینونه پیل شوي دي چې حاکمو ټیمونو په ډېره تېزۍ سره خپل کمپاینونه روان کړي دي او د ټاکنو تر سراوي ته ژمن دي او سوله د راتلونکې حکومت پورې تړلې بولي. دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې جګړې زور اخستی، د یوناما د راپور په اساس چې د اسد په اتمه یې خپور کړی، ویلي چې د روان زیږدیز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۳۸۱۲ ملکیان  مړه او ټپیان شوي دي. یوناما وایي د ۲۰۱۹ مېلادي کال په لومړۍ نیمایي کې د طالبانو له خوا د ملکي کسانو وژنه د ۲۰۱۸ م کال د لومړۍ نیمایي پرتله ۴۳ سلنه لږه شوې، خو د حکومت پلوه ځواکونو لخوا د ملکي کسانو د وژنې کچه ۳۱ سلنه لوړه شوې چې تر ډېره د هوایي بریدونو له امله ده.

نو دې ټولو حالاتو ته په کتو سره دا جوتیږي چې په موجوده وخت کې د افغانستان لپاره لومړیتوب سوله ده، نه ټاکنې؛ هیله ده چې حاکمه ډله د واقعیت په پام کې نیولو سره، ټاکنې د سولې په وړاندې د یوې وسیلې په حیث ونه کاروي.

**ارتباط با ما:**
ایمیل: csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com
ویب‌سایت:www.csrs.com -- www.csrs.af
شمارهٔ تماس دفتر: (+93) 202564049 - 784089590 (0) 93 +

لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.